# د خوست ولایت سیاحتي سیمو لنډه پېژندنه

پوهنیار زینت الله آرمان، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، د تاریخ او جغرافیه څانګه

برېښنالیک: zinatarman2023@gmail.com

**لنډیز**

سیاحت په نړیواله کچه د یوه نوي صنعت په توګه پېژندل کېږي او د نړۍ په اکثره هېوادونو کې د دغه صنعت لپاره هر اړخیزې هڅې کېږي او له دغه صنعت څخه د پام وړ ګټه ترلاسه کوي. په ټوله کې افغانستان او په خاصه توګه خوست ولایت په اکثره ولسوالیو او مرکز کې جغرافیایي، تفریحي، زیارتي او طبیعي سیمې شتون لري، چې د ګرځندویانو د توجه وړ دي. خوست ولایت یو غوره او ښه اقلیم لري او د پام وړ تفریحي سیمو څخه برخمن دی، چې له دې امله د سیلانیانو د توجه وړ ولایت دی. له دې اړخه د ګرځندوی صنعت لپاره پکښې تر ټولو ښې زمینې برابریدلی شي. که چېرې یادو سیمو ته پاخه سرکونه، ترانسپورتي اسانتیاوې، هوټلونه، واړه پارکونه او پارکېنګونه او نور سهولتي خدمات وړاندې شي لېرې نه ده، چې په خوست ولایت کې به دغه صنعت په ښه توګه وده وکړي او له بلې خوا به د بې کارۍ کچه راټیټه شي. دا مقاله چې د خوست ولایت د سیاحتي سیمو په اړه راټوله شوې، هڅه کړې ده، چې د یاد ولایت د یو شمېر مشهورو سیمو، چې د تفریح، سیاحت او جغرافیایي موقعیت له مخې د اهمیت وړ دي په منظم ډول معرفي کړي دي. ددې مقالې د موادو په راټولونه کې د کتابتوني سرچینو او منابعو څخه ګټه اخېستل شوې ده او همدا ډول د یاد مسلک له پوهانو او استادانو سربېره د سیمو له اسیدونکو سره مرکې ترسره شوي دي.

**کلیدي ټکي:** تاریخي آبدې، تاریخي ځایونه، خوست، سیاحت، سیاحتي سېمې

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین**

اَمّا بعد:

**هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ** آیت (۱۵) سوره ملک

ژباړه: هغه زات چې ستاسې لپاره یې ځمکه پسته، حواره او تابع کړې ده، د هغې پر سینه باندې ګرځئ او د خدای روزي خورئ، د همغه حضور ته ستاسې په دوهم ځل ژوندي کېدو سره ورتګ دی.

توریزم د یوې غوره عایداتي منبع په توګه په اوسني وخت کې د ارزښت وړ دی. دولتونو ته په کار ده، چې دغې برخې ته پام وکړي؛ ځکه دغه صنعت په نړۍ کې مخ پرچټکۍ وده کړې او بعضې هېوادونه متوجې شوي، چې دغه صنعت ته وده ورکړي، هېوادوالو او نړیوالو ته د پام وړ خدمات وړاندې کړي او هم خپل هېوادونه په اقتصادي برخه کې له همدغې صنعت څخه تمویل کړي. د وروسته پاتې هېوادونو لپاره د پام وړ صنعت کېدلی شي؛ ځکه د دغې صنعت ګټه بې زیانه ده. په

لږو امکاناتو سره کولای شي، چې دغه صنعت ته وده ورکړي. افغانستان هم د وروسته پاتې هېوادونو له جملې څخه شمېرل کېږي او د سیاحت په برخه کې خورا ښه امکانات لري، نو په کار ده، چې د توریستي خدماتو د بېړنۍ ودې او پراختیا لپاره هر اړخیزې هڅې او امکانات برابر شي. د دې برخې ترټولو مهمه برخه د سیاحت په اړه علمي څېړنې دي، چې باید ترسره شي او په دغه برخه کې منظم روزل شوي کادرونه وجود ولري. زما موضوع هم چې (په خوست ولایت کې د مشهورو سیاحتي سیمو لنډه پېژندنه) ده غوره مې وګڼله چې د هېوادوالو او چارواکو پام دغې برخې ته جلب کړم. په خوست ولایت کې یو شمېر سیمې شته، چې د گرځندویانو لپاره په زړه پورې او زړه راښکونکي جاذبې لري لکه: ادممد، فارم باغ، مېلمه کوټ، حسن کوټ او نورې سیمې، چې دلته یې یادونه او ځای پر ځای کول د دې مقالې له حجم څخه زیاتېږي. یادې سیمې د دې صنعت په وده کې کولای شي د پام وړ رول ولري او له همدغو سیمو څخه یې د بعضو سیمو په تفصیل سره یادونه کېږي.

**موخې**

یو شمېر هېوادونو په خپلو کې د گرځندوی صنعت او د زیاتو سیلانیانو د منلو له پاره ګډې هڅې پیل کړي او په خپلو هېوادونو کې د دې صنعت د ودې او پراختیا لپاره کوټلي ګامونه پورته کوي. یو شمېر هېوادونه د سیلانیانو د منلو او د هغوی د پام اړولو له پاره تبلیغاتي شبکې، تلویزیونونه، راډیوګانې، ورځنۍ، اونیزې او مهالنۍ خپرونې لري، چې د یوه هېواد له پاره نه بلکې د یوې سیمې له پاره د سیلانیانو د راماتولو هڅې کوي، د دې موضوع عمومي موخې هم عبارت دي له:

**اصلي موخه**

د خوست ولایت مشهورو سیاحتي سیمو پېژندل

**فرعي موخې**

- ✓ د حسن کوټ سیاحتي سیمې معرفي کول
- ✓ د فارم باغ تفریحې سیمې پېژندل؛
- ✓ د ادممد تاریخي سیاحتي سیمې پېژندنه

**پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

آیا خوست ولایت سیاحتي سیمې لري؟

**فرعي پوښتنې**

- ✓ که چېرې امارت د ادممد او فارم باغ په سیمو کې پانګونه وکړي، اقتصادي ارزښت به ولري؟
- ✓ آیا زیارتي سیمې د دغه صنعت یوه برخه کېدلی شي؟

**د څېړنې کړنلاره**

د دې تحقیقي مقالې کړنلاره کتابتوني ده، چې د یو شمېر داخلي کتابونو، راپورونو او مقالو څخه پکښې ګټه اخیستل شوې تر څو د یادې موضوع په غني کولو کې ګټوره تمامه شي.

**د موضوع ارزښت**

دا چې د هېواد په سطحه بې کاري زیاته ده، دغه صنعت څو اړخیزه ګټې لري، چې په ترویج سره به یې ټولې خواوې خپلې مزایاوې ترلاسه کړي؛ ځکه دغه صنعت کولای شي چې د ډېرو وګړو لپاره د کار زمینه برابره کړي او د بعضو لپاره د تفریح او یا تاریخي، زیارتي سیمو د لیدولپاره، چې لازمي اسنتیاوې ولري، تسکین شي او روحي آرام ترلاسه کړي. د دې موضوع ارزښت په دې کې دی، چې موږ به د خوست ولایت له یو شمېر سیاحتي سیمو سره بلد شو او د وخت په تېریدو سره به په دې برخه کې د پام وړ کار تر سره شوی وي، تر څو وکولای شو، چې د خوست ولایت سیاحتي سیمې د هېواد په کچه د مهمو سیاحتي سیمو په قطار کې راولو. د نړۍ یو شمېر هېوادونه د خپلو ملي عایداتو زیاته ګټه د سیاحت د صنعت او په هغې پورې اړونده چارو له بابته ترلاسه کوي. په خوست ولایت کې یو شمېر سیمې شته چې په تاریخي، عقیدتي، تجارتي، موسمي او جغرافیایي لحاظ د پام وړ دي. د یوویشتمې پیړۍ تر ټولو مهم او ګټور صنعت توریزم دی. افغانستان او په خاص ډول خوست ولایت دا شونتیاوې لري، چې د نوموړي صنعت څخه په ګټه اخیستنې دا ولایت د افغانستان او نړۍ په کچه د سالمې سیالۍ په قطار کې ځای ولري.

**تېرو اثارو ته کتنه**

په نړۍ کې هر کال په لسګونو ملیونه وګړي د سیلانیانو په توګه ګرځي راګرځي. د دې سره سره چې ټوله نړۍ لا هغسې چې ښایي د ګرځندوی صنعت له پاره نه ده پرانستل شوې، خو د هرکال په تېریدو سره سیل او سیاحت د نړیوال دود په توګه وده کوي او د یوه غوړېدونکي او ګټور صنعت په څېر راڅرګندېږي. اوس په نړۍ کې زیات شمېر هېوادنه د ملي عایداتو پوره او غوښنه برخه د ګرځندوی صنعت او په هغې پورې اړلو چارو له برکته ترلاسه کوي. د هغو خپرو شویو شمېرو څخه چې د بېلا بېلو مؤسسو له لوري وړاندې شوي دي، ۲۰۰۴ مېلادي کال کې د نړۍ د سیلانیانو شمېره ۷۶۳ ملیونه تنو ته رسېدلي وه، چې د ۲۰۰۳م کال په نسبت۱۰،۷ په سلو کې زیاتوالی ښیي. نوموړې شمېره د ۱۹۸۰م کال را په دېخوا تر ټولو زیاته ګڼل شوې ده. د نړیوال ګرځندوی ادارې په وړاندوینه، ښایي له ۲۰۱۰م کال څخه تر ۲۰۲۰م کال پورې د نړۍ د سیلانیانو شمېره په هر کال کې یو ملیارد او شپږ سوه ملیونه تنو ته ورسیږي(باوري، ۱۳۹۶، ص ۳۳،۳۲). مهدي کاظمي په ۲۰۰۷م کال کې په خپل کتاب (د سیاحت مدیریت) کې خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوي: د سیاحت د لومړنیو څېړنو موخه د دې صنعت د اقتصادي ګټو آټکل او محاسبه کولو لپاره د معلوماتو راټولول وو؛ ځکه چې سیاحت د خدماتو صنعت په توګه، په ځانګړي توګه د هغو هېوادونو لپاره، چې نورې سرچینې نلري، د اقتصادي پراختیا لپاره وسیله ګڼل کېږي(صدیقي، ۱۴۰۲، ۱۰۵). زیات سیلانیان هغه هېوادونو ته

تللي دي چې د توریزم او ګرځندوی له پاره اړینې هوساینې لري. هغه لس هېوادونه چې په ۲۰۰۴م کال کې یې تر ټولو زیات سیلانیان منلي فرانسه، اسپانیا، امریکا، چین، ایټالیا، انګلستان، هانکانګ، مکسیکو، المان او اتریش هېوادونه دي (باوري، ۱۳۹۶، ۳۳). سیاحت د لاندې مواردو په پراختیا کې مرسته کوي لکه: د ایکوسیستم اهمیت او اقتصادي ارزښت زیاتوي، د ځایي سیمو لپاره مستقیم او غیر مستقیم عاید رامنځته کوي او د چاپېریال ساتنې په برخه کې د دوی هڅه زیاتوي، په سیمه ایزه توګه د ټولنو خوندیتوب او همغږي رامنځته کول. په دوامداره ډول د طبیعي سرچینو استعمال ته انکشاف ورکول او د ټولنیزو ګواښونو کمول دي (صدیقي، ۱۴۰۲، ص، ۱۰۵). د نړۍ هغه لس هېوادونه چې په ۲۰۰۴م کال کې یې د سیلانیانو د راتللو څخه زیاته مالي ګټه پورته کړې ده آمریکا، اسپانیا، فرانسه، ایټالیا، آلمان، انګلستان، چین، ترکیه او اتریش هېوادونه دي. له دې ډلې هېوادنو څخه د ترکیې هېواد په همدې کال کې د ۱۳ ملیونو او دوه سوه زره تنو سیلانیانو په منلو سره ۱۵ ملیارده او ۹۰۰ ملیونه امریکایي ډالره ترلاسه کړي دي. د ایران هېواد هم په ۲۰۰۴م کال کې یو ملیون او شپږ سوه زره سیلانیان منلي، چې ترلاسه شوی عاید یې یو ملیارد او ۷۴ زره آمریکایي ډالرو ته رسیږي (باوري، ۱۳۹۶،ص، ۳۳). همدا راز محترم پوهاند باوري صیب د افغانستان د تاریخ پنځوس پاڼې د مقالو ټولګه، چې په ۱۳۹۲ل کې چاپ شوي د افغانستان مختلفو تاریخي سیمو او ابدو په برخې کې لیکلي په هغې کې د خوست ولایت درې سیمې لکه: ګوډه خاره (ګوډله ښار) یا حسن کوټ، حصار غونډۍ (ویسار غونډۍ) او دلپوریو په سیمه کې د یوې لرغوني غونډۍ څخه یادونه کړې ده. د پوهاند باوري صیب یو بل اثر چې نوم یې د توریزم بنسټونه او په افغانستان کې توریستي امکانات دی په ۱۳۹۶ل کال کې چاپ د افغانستان د نورو ولایتو سر بېره د خوست ولایت یو شمېر سیمې ګودل ښار، حصار غونډۍ او د خوست تفریحي پارک (فارم باغ) څخه په تفصیل سره یادونه کړي. همداراز خوست شیخ زاید پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي د استادانو او محصلینو په کډه افتکار له یادو سیمو څخه لیدنه کړي او محصلینو ته د یادو سیمو ارزښت او اهمیت په ګوته شوی وو. د خوست اطلاعاتو او کلتور ریاست لخوا هم یادو او نورو سیمو ته سفرونه ترسره شوي، چې د یادو سیمو ارزښت له پسې غښتلی شوی (باوري، ۱۳۹۶،ص، ۳۴).

**خوست**

خوست ولایت د افغانستان د څلور دېرشو (۳۴) ولایتونو له جملې څخه یو ولایت دی، چې د افغانستان په جنوب ختیځ کې موقعیت لري، مرکز یې د متون په نوم یادېږي. خوست ولایت ۳، ۴۲۳۵ کیلومتر مربع مساحت لري، د بحر له سطحې څخه (۱۱۴۶) متره ارتفاع لري. خوست ولایت د درې واحدونو (لکڼ، شمل او متون) برسېره (۱۲) ولسوالۍ لري. دغه ولایت د پلازمېنې کابل څخه (۲۴۵) کیلومتره واټن لري. خوست ولایت د شمالي وزیرستان سره (۱۸۴) کیلومتره فرضي کرښې په درلودلو یو سرحدي او ستراتیژیک ولایت دی (زیار، ۱۳۹۷،ص، ۱۱). خوست ولایت د ختیځ طوال البلد په (۲۹) درجو، (۳۹) دقیقو او (۵۸) ثانیو او په شمالي عرض البلد کې په (۳۳) درجو ۵ دقیقو او (۳۴)

ثانیو کې موقعیت لري. همدا راز د پکتیا ولایت مرکز ګردیز څخه ۱۱۴ کیلومتره واټن لري. د خوست ولایت هوا د ژمي په موسم کې معتدله او په اوړي کې نسبتاً ګرمه وي. د دوبي په موسم کې په زیاته اندازه باران اوري، چې د ګرمۍ څخه مخنیوی کوي. د دې ولایت اکثره غرونه د طبیعي ځنګلونو په واسطه پوښل شویدي (حقمل، ۱۳۸۳ل،ص، ۱). د خوست لغوي مانا جزیره یا د دریاب په منځ کې وچې ته ویل کېږي. په غالب ګمان په خوست کې د خلکو د مېشتېدو نه ډېر وړاندې هغه خوړونه چې د ځدراڼو، منګلو او تنیو له سیمې څخه رابهیدل، ټولې اوبه یې په خوست کې ذخیره کېدې، او د اوبو د وتلو لار نه وه او د یوه ډنډ شکل یې غوره کړی و، چې د کلونو په تېرېدو زیات قوي او بحري حیوانات پکې پیدا شول او کېدای شي په سلهاوو کاله ژوند یې کړی وي، مګر کله، چې اوبو د تګ لاره پیدا کړه او د اوسني پاکستان په خوا رواني شوې، نو اوبه ورو ورو کمېدې او د بحري حیواناتو ژوند هم له خطر سره مخامخ کېده او دا امکان هم لري، چې د خوست چار چاپېره ګڼ ځنګلونه وي او لوی لوی ځنګلي حیوانات په کې اوسیدل، چې د دغو حیواناتو یوه بېلګه موږ اوس هم په لاس کې لرو او هغه دا چې د خوست د مدیخېلو په سیمه کې د دغو حیواناتو د پښو او ورنو هډوکي دومره غټ و، چې خلکو په ویالو باندې ایښي وو او د پل کار یې ترې اخیسته (ترکیبي کمیسیون، ۱۳۹۱ل،ص، ۱، ۲).

**سیاحت**

سیاحت ( توریزم) تور لاتیني کلمه ده چې د یوناني tornare له کلمې څخه اخستل شوې ده. د tornas یوناني کلمه د ګرځېدلو او دایرې په مانا کارول شوې ده. د دې کلمې رښتینې منځپانګه هغه دایروي څرخېدل دي چې د پیل نقطې ته بېرته راګرځېدل ولري.

د توریزم په فني تعریف کې دریو مهمو ټکو ته پام شوی دی. لومړی د سفر موخه ده چې د سوداګرۍ له پاره، د دوستانو د لیدو له پاره او یا نورې موخې ولري. دویم یې د زمان او مهال عنصر دي، چې د څه مودې له پاره تر ټولو ډېر یا لږ مهال وي. دریېم یې موقعیت او ټاټوبی دی، چې سیاح یې لیدلو ته ورځي. ښایي یو شمېر توریستان د خینو توریستي سیمو څخه تېر شي او هغه سیمه یې موخه نه وي. هغه ټاټوبی، چې د توریست له پاره تر ۲۴ ساعته لږ مهال پکښې اوسیږي، د مهال له اړخه توریستي موخه نه ګڼل کېږي (باوري،۱۳۹۶،ص، ۱۲،۱۱). د بین المللي تعریف پر اساس سیلاني هغه څوک دی، چې تفریح، د لیدلو وړ ځایونو څخه بیا لیدنه، درملنه، سوداګري، سپورت او زیارت کولو په منظور بل هېواد ته سفر کوي، په دې شرط چې د اوسېدو مهال یې له ۲۴ ساعتو څخه کم نه وي او له ٦ میاشتو څخه زیات نه وي او فاصله یې له ۷۰ کیلومتره څخه کمه نه وي (کرمی، ۱۳۸۹،ص، ۱۱۰). په توریستي ادبیاتو کې د فراغت وخت هغه مهال ته ویل کېږي چې یو تن د ورځنیو چارو د هر اړخیزه فشارونو څخه ځان لېرې کړي. هغه مهال چې د ورځنیو دندو، تولیدي چارو او دوامداره بوختیاوو څخه بېل شي، یوازې د خپل بدني توان او څواک د بیا را پیدا کولو په نیت د بدني او روحي ستړیا څخه ځان جلا او ازاد وساتي. د توریست یا سیلاني اصطلاح له پاره په

دري کې د جهان ګرد کلمه کارول کېږي. په عربي کې سیاح او په انګلیسي کې بیا توریست (Tourist) معمول دی. د توریست اصطلاح په (۱۹مه) پېړۍ کې د فرانسې هېواد د اشرافي کورنیو هغو شمېر وګړو ته ویل کېدل چې د زده کړو او یا د نویو تجربو او لیدو کتو له پاره په سفر بوخت وو (باوري، ۱۳۹٦، ۱۲). د سیاحت لغوي تعریف: (سیاحة) د عربي کلمه ده، چې د ساح یسیح سیحا و سیحانا څخه اخیستل شوې ده، چې د ځمکې پر مخ باندې ګرځېدلو ته وایي یا په بله وینا سیاحت هغه ګرځېدل دي، چې د خپل استوګنځي څخه نورو ځایونو ته د ساعت تېرۍ له پاره ځي او یا هغه ښکاره اوبو ته ویل کېږي چې د ځمکې پر مخ باندې بهېږي (صدیقي، ۱۴۰۲،ص، ۱۰٦).

**خواجه محمدخان تپه**

د خوست ښار په شمال او شمال لوېدیځه څنډه کې موقعیت لري ، د مرکزي ښار حاکمه نقطه ده چې د متون بابا مشهور زیارت او لرغونې ډېرینه نظامي کلا چې د کلا په څلورو کونجونو باندې د دښمن د دفاع په خاطر په هرکونج باندې یو یو دفاعي برج شتون لري، په نوموړي غونډۍ باندې جوړه شوې تاریخي کلا د محمدظاهرشاه د واکمنۍ پرمهال په ۱۳۳۷ هـ ل کال کې د المان هېواد په مرسته جوړه شوې ده ، د دغې کلا پرسر د کشف قطعه هم موجوده وه. یادې نظامي کلا د خوست ښار بنې ته ښکلا ورکړې ده.

(۱) ګڼه انځور: انځور اخیستونکی باختر اژانس ۱۳۹۸ه .ش



**تخته بېکه**

تحته بېکه د خوست ښار جنوب لوېدیځه څنډه کې موقعیت لري، تخته بېکې دوه غونډۍ دي چې پر سرونو یې پوځي کلاګانې جوړې شوې دي. د دواړو غونډیو تر منځ یو سورنګ (غار) کېندل شوی چې د خطرونو پر وخت به یې د یوې بلې تپې تر منځ له دغه ځمک لاندې لارې څخه استفاده کوله. د یادو غونډیو پر سرونو جوړې شوې کلاګانې په ۱۳۰۸هــ ل کال کې د نادرخان د واکمنی

پرمهال جوړې شوې دي. یادې ودانۍ د ډبرو او خښتو څخه د کمانونو په بڼه جوړې دي چې چتونه یې اوسپنې او لرګي نه لري. یادو کلاګانو کې د طالبانو له ریژیم وروسته امنیتي قطعات پرته دي(د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیریت، ۱۳۹۸ه .ش).

(۲) ګڼه انځور: انځور اخیستونکی باختر اژانس ۱۳۹۸ه .ش



**حسن کوټ (ګوډه خاره) ګنبده**

د شمل حسن کوټ ( ګوډه خارې ) کنبده د خوست ښار ختیځ لوري ته په (۱۵) پنځلس کیلو متري کې پرته ده. دغه تاریخي کنبده شمال عرض البلد په (۳۳،۳۲۴۲۹) درجو او د ختیځ طول البلد په (۷۰،۰۳۲۵۲). درجو ترمنځ موقعیت لري. د حسن کوټ سیمه د بحر سطحې څخه (۱۰۹۱) متره لوړوالی لري(*علمي سفر ، ۱۴۰۱،ص،۴).* د دغې ګنبدې د تاریخ او د سیمې د نوم په اړه پوهنیار سیف الله غروال د ګوډه خارې کلي یو مشر حاجي محمد رحیم چې عمر یې(۱۰۴) یو سل او څلور کلونو ته رسېږي، په حواله داسې وویل: دغه ګنبده د احمدشاه بابا په وخت کې جوړه شوې ده. هغه وایي چې دغه ګوډه خاره نه ده، بلکې ګوډل ښار دی یعنې د ګوډلو ښار، خو د وخت په تیرېدو سره په ګوډه خاره بدل شوی دی. چې بیا د ګوډه خارې نه په حسن کوټ باندې بدل شو ( غروال).

د ظاهر شاه په وخت کې چې خوست د پکتیا ولایت لویه ولسوالي وه، په دغه وخت کې د پکتیا والي عیسی و. دغه والي د اوسني خوست ولایت د حسن کوټ ( ګوډه خارې ) کلي ته راغلی و. د والي صیب د ښه راغلاست لپاره ټول خلک راټول شوي وو. د راټولیدنې په اوږدو کې والي صیب د ګوډه خارې د مانا پوښتنه کوي، چې په نتیجه کې د سیمې ټول اوسیدونکي چپ پاتې کېږي. له دې څخه وروسته والي صیب د همدغه کلي د مشر د نوم پوښتنه کوي، چې د کلي مشر څه نومېږي؟ کلیوال په ځواب کې ورته وایي چې سید حسن نومېږي.د پکتیا والي ورته وویل ، چې له دې نه

وروسته به د ستاسو د کلي نوم د شمل حسن کوټ وي. نو ځکه تر نن ورځې پورې دغه سیمه په دوو نومونو سره یادیږي، چې یو ته شمل حسن کوټ او بل ګوډه خاره وایي (نظري، ۱۳۹۱،ص، ۵۶، ۵۷).
د شمل حسن کوټ (ګوډه خاره) ګنبده د خوست ښار ختیځ لوري ته په ۱۵) پنځلس کیلو میتري کې پرته ده. دغه ګنبده تقریباً (۱۵) متره جګوالی او (۸) متره سور لري. دې ګنبدې ته د شمل د ډېرو کلیو خلک د اختر په ورځ، د نوي کال شپو او ورځو کې د مېلو لپاره راځي. داسې ویل کېږي، چې نوموړې ګنبده د احمدشاه بابا په وخت کې جوړه شوې ده. د یادې ګنبدې په د ننه کې د شاه اسمعیل په ګډون نهه(۹) قبرونه شتون لري. دا قبرونه د خټو او پروړو په وسیله کاه ګېل شوې دي. د ګنبدې داخلي جوړښت د منځنی آسیا د سیمې معمولي ضریبو په څېر ده. د هر لوري دیوال یې ریلف په څېر شیشک لري، چې د کمانونو جوړښت یې په خورا موزون ډول شوي دي. د ختیځ دیوال ریلیف شیشک د لویدیځ دیوال د ریلیف شیشک سره او د شمال دیوال ریلیف شیشک د سهیل دیوال شیشک سره متناسب جوړ شوي دي.
د ګنبدې له جوړښته مالومېږي چې درې کنګره اییز یا درې پړاویز جوړښت لري. د قاعدې تر لومړۍ کنګرې څه نا څه شپږ متره لوړوالی لري. د لومړۍ کنګرې تر دوهمې کنګرې څه نا څه دوه متره او دریمې کنګرې تر وروستۍ هرمي څوکې هم څه نا څه څلور متر لوړوالی لري. چې مجموعا ۱۵ مترو ته رسیږي. د قبرونو د ساتنې لپاره ځانګړي ملنګ یا د زیارت ساتونکی نه لري. خو د سیمې خلک یې د خپل نیکه د درنښت له امله پوره ساتنه کوي( باوري، ۱۳۹۲،ص، ۳۴۰).
وړاندې د ګنبدې پاسنۍ برخه د خټو په واسطه پوښل شوې وه، ترڅو زیان ورته ونه رسیږي، خو په دې ورستیو کې د خوست ولایت د اطلاعاتو کلتور ریاست په هڅو سره د ترمیم چارې فیاض عمران او ارشاد حامد شرکت ته په ۱۳۹۸/۹/۱۶ په (۴۲) لکه افغانۍ په قرار داد ورکړل شو. باید یادونه وکړو چې د رغونې چارې یې په ۱۳۹۹/۳/۱۶ نېټه پای ته ورسېدې. د چارو د بشپړېدو وروسته یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت لخوا یاده پروژه په رسمي توګه تسلیم شوه(غروال، ۱۴۰۱،ص، ۶).
ګوډله ښار یا حسن کوټ(د دې سیمې د نوم په اړه ویل کېږي: هغه مهال چې، د ویسار(حصار) غونډۍ ته به د نورو سیمو ځواکونه راورسېدل، یو شمېر به یې د حسن کوټ هوارې سیمې ته راتلل او ګوډلې به یې جوړې کړې او د یوه ښار په څېر به مالومېدل، دا سیمه یې ځکه د ګوډلې ښار په نوم یاده کړه او دا نوم ورو ورو د ګوډلې ښار څخه ګوډه خار ته واوښت.) دا سیمه د خوست ختیځ ته پرته ده پراخه او هواره زراعتي سیمه ده، د دې سیمې ترټولو مشهوره نقطه ګومبذه(ګنبده) ده، دا ګنبده د شاه اسماعیل زیارت په نوم مشهوره ده. ویل کېږي چې، شاه اسماعیل د اکبر پاچا د مهال ستانه و. یوه فلکلوریکه کیسه هم په دې اړه د دې سیمې د مېشتو وګړو او په ځانګړي توګه د شاه اسماعیل د لمسیانو له لوري ویل کېږي، چې وایي( اکبرپاچا وپوښتل چې په دې سیمه کې داسې څوک شته چې زما درنښت او احترام یې نه وي پرځای کړی، چا ځواب ورکړ چې هو، په هاخوا غونډۍ کې یو مشر ستانه ستا درنښت ته نه دی راغلی، اکبرپاچا حکم وکړ چې دوه فیلان ولیږئ او دا سړی ډېر ژر تر درباره راولئ، کله چې

لېږلي کسان او فیلان تر هغه سړي ورسېدل، هغه مهال شاه اسماعیل د فیلانو لوري ته وکتل او پر هغوی یې د الله اکبر غږ وکړ او د غږ د اوریدلو سره سم دا فیلان مړه شول. د دې پېښې خبر اکبر پاچا ته ورسېدو او اکبر پاچا بیا خپله د دې ستانه او رسېدلي پیر دربار ته راغی او د شاه اسماعیل احترام یې پرځای کړ( باوري، ۱۳۹۲،ص، ۳۳۹،۳۳۸).

د شاه اسمعیل د ژوند او مرگ په اړه کره معلومات نشته خو د سیمې په خلکو کې دا روایت دی: (غالباً چې د احمدشاه بابا هند ته د اووم سفر پر مهال د بابا قافله له دغې سیمې څخه تېرېده، دا چې په یاده سیمه کې د ګڼو ونو ځنګل و او شاه اسمعیل په همدې سیمه کې په گوډلو کې اوسېده ، کله چې د احمدشاه بابا کاروان تېرېده او د شاه اسمعیل بچیان ووېرېدل راپورته شول او کاروانیانو ولیدل ، دوی یو ځآی کېښنانستل،کله یې چې شاه اسمعیل ولیده چې نېک سړی دی او دوی ترې د هند د فتحې دوعا وغوښته ، نوموړي دعا وکړه او د کاروان سفر په بریالیتوب سره سرته ورسېده، کله چې راوپس شول احمدشاه بابا سره مخامخ شول او د یاد کس ( شاه اسمعیل) په اړه یې خبره احمدشاه بابه ته واوروله، احمد شاه بابا خپل کسان په شاه اسمعیل پسې ولیږل او ځان ته یې وغوښت خو کله چې د بابا کسان تر گوډل ښار راغلل، دې وخت کې شاه اسمعیل روح حق ته سپارلی و(د فرهنگي میراثونو د ساتنې مدیریت، ۱۴۰۳ه .ش).

(۳) گڼه انځور: باختر اژانس، ۱۳۹۸ه .ش



(۴) ګڼه انځور: باختر اژانس، ۱۳۹۸ه .ش



**آدممد**

که اریایان د تاریخ په اوږدو کې وکتل شي، معلومه به شي چې اریایانو کوچیتوب کړی دی. لیکوال د پټې خزانې په قول وایي: شیخ متي، غرغښت، څړبن، خدي ابا ، آدممد نیکه او پیاوی، د هغه وخت شرایطو سره سم د پښتنو ځینې مالدارې کورنۍ د جنوب په لوري د سلیمان غرونو په لمنو کې ځای په ځای شول او کوچیتوب ژوند ته یې دوام ورکړ، چې د هغه خلکو سره تنې هم شامل وو. ادممد د تنیو ولسوالی په غرب لوري کې موقعیت لري، لویدیځ لوري ته یې د سپېرې ولسوالي، ختیځ لوري ته یې سور کوټ کلی، شمال ته یې د دوه منده ولسوالۍ اړوند سیمې سویل لوري ته یې ورژله او کوچانو کلی موقعیت لري(اجمل، ۱۴۰۳ه ش).

داسې ویل کېږي، چې د تنیو لومړنی ټولنیز کلی سیرکټ (سورکوټ)چې د اوسنۍ ورژلې لمر خاته لوري ته او د نریزې شمال لویدیځ ته موقعیت لري، د اوسیدو ځای و. په دې هکله ځینې روایتونه شتون لري، ویل کېږي، دلته دوه ورونه چې یو یې ادګل او بل یې مادګل نومیده د یاد قوم مشري په غاړه لرله. کله چې چنګېز په غور باندې حمله وکړه او ډېر ښارونه یې د خاورو سره خاورې کړل. د سلیمان غرونو په لمنو کې چنګېز خپل زوی هلاکو ته وظیفه ور کړه چې اکبر پاچا تعقیب کړي. کله چې د هلاکو لښکرې پکتیکا، ارګون، پیرکوټي، زیړوک، ځدراڼو په دره کې پرمختګ کاوه، هلاکو غوښتل چې د سپلګین، وزیرستان په لاره هند ته داخل شي. تني چې ډېر تکړه او جنګي خلک دي، د دې لارې په استقامت پرته وو. د تنیو د یادو خصوصیاتو له مخې دوی وغوښتل چې د هلاکو لښکرو سره د ژوند تر اخري سلګی وجنګیږي. تني د خپلو مشرانو سره چې ادګل او مادګل نومیدل یو ځای (۱۲۰۰) کسان د هلاکو لښکرو په مخالفت کې جنګ کولو ته تیار شول. نوموړي کسان د

سریتي د جګې څوکې چې د کوچیانو کلي په شمال لویدیځ کې پرته ده، ځای پر ځای شول او په حاکمو نقطو کې یې څوکی جوړې کړې.
د هلاکو لښکرې د ځدرانو په دره ارګون، پیرکوتیې او نورو سیمو کې د سخت مقاومت سره مخ شوې وې، له همدې امله تنیې د زیات وخت لپاره په یادو سیمو کې د انتظار په حالت کې پاتې شول. یادو سیمو ته د تنیو قوم ځینو کسانو د خپل ځان سره ماشومان هم بوولي وو، ترڅو چې د چنګېز د لښکرو سره د جنګ له صحنې څخه ونه تښتي. کله چې چنګېز د خپل لښکر د مشکلاتو څخه خبر شو، نو یو بل زوی یې د یولک شل زره (۱۲۰۰۰۰) عسکرو سره راولیږه، ترڅو د هلاکو لښکرې تقویه کړي او پر مخ لاړې شي. د ذکر شویو کسانو د راتلو سره د هلاکو لښکرو شمېره تقریباً درې لکه (۳۰۰۰۰۰) کسانو ته رسیده. هغه وو، چې د یادې ډلې سره یو ځای د هلاکو لښکر پر مختګ ته دوام ور کړ، تر څو د پیرکوتیې ، زیروک په لاره یې په مخ موجود مقاومت مات او تګ ته یې دوام ورکړ.کله چې د تنیو قوم د مدافعې خط ته راورسېدل، د تنیو (۱۲۰۰) کسانو مقاومت وکړ او دوښمن ته یې ډېر تلفات واړول. د تنیو اربکیو د جنګي تکتیک څخه کار واخیست؛ خو بیا هم د یوې خوا څخه د تنیو شمېر کم او د هلاکو لښکرو شمېر زیات و، نو هغه وو، چې د هلاکو لښکرې د سېلاب په شان غره ته پورته شوې او د تنیو (۱۲۰۰) نفره ټول یې د ماشومانو په شمول ځای په ځای شهیدان کړل. د هلاکو لښکرې مخ پر سپیلګین، مچه وزیرو په استقامت لاړې. د تنیو، شهیدان دوه ورځې وروسته په هغه ځای کې خاور ته وسپارل شول، چې د هغه قبرونو ځینې نښې او اثار معلومیږي. په ځینو مشرانو باندې یې زیارتونه جوړ دي، چې اوس هم دغه زیارتونه د آدممد سیمه کې شتون لري. ویلی شو، چې په نوموړي سیمه کې د ادګل او مادګل قبرونو تر څنګ د ماشومانو زیارتونه هم وجود لري(زیار،ص، ۸- ۱۰).

**(۵) ګڼه انځور: آرمان، ۱۴۰۲**



**د خوست ولایت تفریحي پارک**

په خوست ولایت کې د سیاحتي ځایونو له جملې څخه یو هم (فارم باغ) دی، چې ګڼ شمېر خلک د تفریح لپاره ورته راځي. فارم باغ د خوست ولایت په سهیل ختیزه برخه کې پروت دی، چې د ښار اړونده سیمه بلل کېږي او له ښار سره نږدې لس کیلومتره واټن لري. دغه باغ د شمل سیند پرغاړه پروت دی چې په دوو اړخونو کې یې ښایسته شنې غونډۍ لري، له دې امله یې طبیعي منظره ډېره ښکلې ده، چې د خلکو پام یې ځانته اړولی دی. فارم باغ ۳۸۰ جریبه مساحت لري. دا باغ د نایب الحکمه فیض محمدخان په وخت کې جوړ شویدی، فیض محمدخان د ظاهرشاه د سلطنت پرمهال د خوست ولایت نایب الحکمه ؤ. --+نایب الحکمه فیض محمدخان د فارم باغ ترڅنګ نور تفریحي ټاټوبي هم جوړ کړې دي لکه د سره فارم، میلمه کوټ، بلاوټ او د سیګۍ باغونه دي. د فارم نږدې اویا کاله کېږي چې جوړ شوی؛ خو له هغه تردې دمه چې د وخت څومره ناخوالې دي هغه ورباندې تېرې شوې دي، له دې سره سره بیا هم فارم باغ د خپلې طبیعي منظرې د شته والي او ښکلا له امله د خلکو پام ځانته اړولی دی.

فارم باغ ته د هغې د طبیعي ښکلا د شتون له امله چې شمال ته یې د شمل سیند بهېږي، سهیل لوري ته یې ښکلې طبیعي غونډۍ ده، چې سیمې ته یې ځانګړې ښکلا ورکړې ده. په عادي ورځو او د اونۍ په اوږدو کې نږدې پنځه سوه کسان د سیل لپاره ورځي، په ځانګړو ورځو کې لکه اخترونه، نوروز او همدا راز په هغه موسمونو کې چې هوا مرطوبه وي، فارم باغ ته زښت ډېر خلک د سیل او چکر له لپاره راځي دلته مېلې جوړوي، ملي اتڼونه ترسره کوي او بېلا بېلې خوښۍ او لوبې کوي(باوري، ۱۳۹۶،ص، ۲۵۲،۲۵۱).

**ویسار (حصار) غونډۍ**

د خوست ښار په ختیځ کې یوه تاریخي کلا(حصار) د منګسو په سیمه کې د غونډۍ د پاسه جوړه ده، چې د قدامت په اړه یې څوک نه دي خبر خو ځایي خلک وایي، چې د دې شاوخوا ځینې ډبرینې مجسمې موندل شوي وې، چې لا درکه دي. کله کله د غیر قانوني کېندنو ګنګوسې خپرې شي؛ خو څوک ورته پام نه کوي. خوست اوس د افغانستان د شتمنو ولایتونو نه یو دی؛ خو د تمدن او د کلتور په اړه یې لږ خلک خبر دي(باوري، ۱۳۹۶،ص، ۲۴۴).

حصار غونډۍ د خوست ښار ختیځ لوري ته په (۲۰) کیلو مترۍ کې موقعیت لري. دغه تاریخي غونډۍ د ځانګړي موقعیت له مخې د پخوانیو اوسېدونکو له لوري د دفاعي او نظامي مرکز په توګه غوره کړل شوې او کارول شوې ده. د حصار غونډۍ د مرکز اړوند موقعیت لري. دغه تاریخي غونډۍ د شمالي عرض البلد په (۳۰،۲۲۸) درجو او د ختیځ طول البلد په )(۷۰،۰۱۰۹۰۹) درجو کې موقعیت لري. د دې ترڅنګ ویلی شو چې دغه سیمه د بحر له سطحې څخه (۱۱۳۷) متره لوړوالی لري(*د علمي سفر مشاهده*).

ویسار غونډۍ د مستطیل په ډول له شمال څخه د جنوب په لوري پرته ده . د دې تپې جوړښت د نورو طبیعي او مصنوعي تپو سره یوه ځانګړنه لري او دا ځانګړنه دا ده، چې نه یوازې طبیعي تپه ده او نه په بشپړ ډول مصنوعي تپه ورته ویلی شو بلکې مکس یعنې ګډ جوړښت لري. د دې تپې پورتنۍ برخه طبیعي او غرنۍ ده چې ډبرین جوړښت لري او لاندینی برخه یې په مصنوعي ډول جوړه شوې ده. دغه غونډۍ شاوخوا (۱۰۰۰) متره پراختیا او سور یې (۴۰۰) متره پورې رسیږي. همدارنګه ویلی شو چې د یادې غونډۍ لوړوالی تر (۱۰۰)مترو پورې رسېږي (باوري، ۱۳۹۶،ص، ۲۳۲).

د دې غونډۍ په هکله پوهندوی زرولي صدیقي ترتیب کړي معلومات په لاندې ډول وړاندې کړل: د حصار غونډۍ ته د لومړي ځل لپاره فرانسوي لرغونپوهان په (۱۹۶۹) لمریز کال د یادې سیمې څخه لیدنه وکړه، هغه معلومات د یادې ډلې راټول کړي دي، چې زموږ سره په لاس کې نشته. دویمه تخنیکي او مسلکي ډله چې د حصار تاریخي غونډۍ څخه یې لیدنه کړې ده. هغه په (۱۳۸۴- ۱۳۸۵) لمریز کلونو کې د مرکز کابل څخه د لرغونپوهنې مسلکي شخصیتونه راغلل او لیدنه یې ورڅخه وکړه چې په نتیجه کې یې مفصل راپور ترتیب او د افغانستان د لرغونپوهنې ادارې ته یې سپارلی دی. دریم علمي سفر دغه تاریخي غونډۍ ته مرحوم پوهاند صیب محمد رسول باوري له دې سیمې څخه لیدنه کړې ده چې، په خپلو دوه چاپي آثارو کې یې راټول کړي معلومات چاپ کړي دي. د ټولنیزو علومو پوهنځي دغه علمي سفر د یادې سیمې ته څلورم علمي سفر ګڼل کېږي. صدیقي صیب ټینګار کوي چې هغه مسائل چې د یو مورخ توجه راجلب کوي هغه د باوري صیب په لیکنه بې علمي یا کم علمي ښودلی شو، ځکه چې دقیق معلومات د باوري صیب په لیکنه کې شتون نه لري. خو هغه سیکې چې له یادې سیمې څخه تر لاسه شوې دي، هغه په سلجوقي لړۍ پورې مربوط دي. سلجوقي دوره په تاریخ کې په (۱۰۳۸) میلادي کال کې پیل شوې ده چې لومړی واکمن یې توغرل بیک نومیږي، باید یادونه وکړو چې دغه لړۍ په نیشاپور کې رامنځته شوې ده. همدارنګه ویلی شو، چې نیشاپور پخوانی خراسان او اوسنی د ایران په خراسان پورې مربوط سیمه ګڼل کېږي. وروسته دغه واکمني ماورالنهر، خوارزم، افغانستان او د هند ترشمال پورې یې پراختیا بیامونده. دغه لړۍ تر (۱۱۵۹) میلادي کال پورې دوام درلوده. د دې لړۍ وروستنی واکمن د سلطان سنجر په نوم یادیږي. په پورته ذکر شویو سیمو باندې سلجوقي لړۍ (۱۲۱) کاله واکمني ترسره کړې ده . که د حصار غونډۍ څخه تر لاسه شویو سکو ته د سلجوقي لړۍ وټاکو نو ویلی شو چې له نن څخه (۸۶۳) کاله لرغونتوب لري (*صدیقي، ۱۴۰۱،ص،۷*).

(٦) ګڼه نځور: آرمان، ۱۴۰۲



**غازی ببرک خان کلا:**

یاده کلا د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د ګډورې په سیمه کې پرته ده، چې له خوست ښار څخه کابو د ۲۵ کیلومترو په واټن کې ده. دا کلا چه د درېیو(۳)جریبو په مساحت ځمکه کې نقشه اوپلان شوي، د خارجی چاردیوالي عرض ئي له دریو(۳)ګزو په حدودوکي جوړشویده. یاده کلا د ختیځ څخه جوړه شوې ده او د کلا څلور(٤) مستحکم برجونه لري. د یادې کلا خارجي دروازه ډېر ه مستحکمه او د اوسپنی په قوي چادرکې پوښل شوي ده.

یاده کلا د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د امیر په لارښوونه جوړه شوې ده. د کله په عمومي دروازه د داخلېدو سره سم انتظار خونې جوړې شوې او له اتنظار خونې ور ها خوا بله لویه دروازه وه چې د کلا داخل ته پرې دخول کېده. د کلا د انتظار خونې ترڅنګ یوه لویه کوټه د مېلمنو لپاره جوړه شوې وه.

د کلا داخلي جوړښت په دوو (۲) برخوویشل شوی چې شرقي اوغربي قلعه ګانې یې جوړې کړي دي، د همدې دوو کلاګانو په منځ کې لویه حربي څوکی جوړه وه چې د بازار په نوم یادېدله او په دې موخه جوړه شوې وه چې که کله دښمن کلا ته داخل شي له دې ځایه به پرې دفاعي برید کېږي، هم به د کلا شرقي برخه او هم غربي برخه به یې له دې ځایه څارله. دکلا په داخل کې د کلا د دیوالونو سره متاصل کوټې جوړې دي او د دې عمومي چاردیوالۍ باندنۍ برخه کې د کلا د دفاع په موخه د توپکو تیرکشونه(سوري) جوړ شوي چې د کلا څلورو خواو ته د دفاع لپاره یې ځانګړی ارزښت لاره(خوست اطلاعاتو کلتور ریاست، ۱۴۰۳ه ش).

(۷) ګڼه انځور، باختر آژانس



**پایله**

خوست ولایت د افغانستان په اداري جوړښت کې خورا ارزښت لرونکی دی. د دې تر څنګ یاد ولایت د سیاحت لپاره خورا زړه راښکونکې سیمې لري، چې د دې سیمو په لیدو سره به د یاد ولایت اقتصادي وضع لا پسې غښتلې شي.

د توریستي صنعت وده، د هېواد هغه ستونزه چې بې کاري ده، مناسبه حل لاره ده، دغه صنعت زیات لګښت ته اړتیا نه لري، په دې صنعت کې تر ټولو مهم د مسؤلو چارواکو هوډ او اراده ده.

د توریستي صنعت وده د ګران هېواد تاریخي او فرهنګي اثارو په ساتلو کې د پام وړ رول لرلی شي.

دا چې ګران هېواد افغانستان د سیاحت په برخه کې کافي شونتیاوې لري، حکومتونو او اولسونو ته پکار ده، چې د خپلو تاریخي او فرهنګي میراثونو څخه ساتنه وکړي او د پایښت لپاره یې مختلفې لارې چارې ولټوي. ددې څېړنې په نتیجه کې دې پایلې ته رسېږو چې خوست ولایت بېلا بېلې سیاحتي سیمې لري، خو په نوموړیو سیمو کې د سیاحت کوونکیو لپاره اړین سهولتونه شتون نه لري.

**وړاندیزونه**

- د خوست ولایت په تفریحي او سیاحتي سیمو کې د لازمو اسانتیاوو برابرول.
- په خوست ولایت کې د بعضو نویو سیمو په سیاحتي سیمو بدلول.
- سیاحت ته د یو نوي صنعت په توګه وده ورکول.
- په خوست کې چک ډېمونه جوړیږي، د همدغو چېک ډېمونو سره د امکان په صورت کې د تفریحي پارکونو جوړول.

**سرچينې**


باوري، محمد رسول.(۱۳۹۲). *د افغانستان د تاریخ پنځوس پاڼې ( د مقالو ټولګه)*. کابل: د بهیقي کتاب خپرولو ریاست.

باوري، محمد رسول.(۱۳۹٦ ). *د توریزم بنسټونه او په افغانستان کې توریستي امکانات* ،آزادۍ دولتي مطبعه

ترکيبي ګڼ کميسيون.(۱۳۹۱ ). *خوست پېژندنه* ، آریانا خپرندویه ټولنه.

حقمل، بسم الله.(۱۳۸۳ ). *خوست به ځنګه جوړ کړو*، حلیمي پرینټنګ ایجنسي.

رحیمي، محمد رحیم ( ۵/۲/۱۴۰۳). *حصار غونډۍ*. د سیمې او سیدونکی.

زیار، عصمت الله، صدیقي، زرولي.(۱۴۰۱). *د تاریخ او جغرافیې څانګې د علمي سیر راپور* . خوست: شيخ زاید پوهنتون.

زیار، عصمت الله.(۱۳۹۷). *د خوست ولایت منطقوي جغرافیه( پوهنیار علمي رتبې آثر)*.شیخ زاید پوهنتون.

صدیقي، زرولي. ( ۱۴۰۱/۲/۲۳). *حصار غونډۍ*. ټولنیزو علومو پوهنځي استاد.

صدیقي، قدرت الله. (۱۴۰۲). *د افغانستان د یو شمېر سیاحتي ځایونو ټولنیز او اقتصادي ارزښت*. خوست: شیخ زاید علمي- څېړنیز ژورنال، دویمه ګڼه.

غروال، سیف الله.( ۱۴۰۱/۲/۲۳). *حسن کوټ*. ټولنیزو علومو پوهنځی

کرمی، پ.(۱۳۸۹). *گردشگری موضوع غلم جغرافیا* . سپهر، ۳ .

مدیر اجمل.(۱۴۰۳). *آدممد سیمه* . مرکه کوونکی: زینت الله آرمان.

نظري، محمد زمان. (۱۳۹۱). *خوست*. خوست: اطلاعاتو کلتور ریاست.

# A brief introduction to some tourist areas in Khost province

Teaching Assistant. Zinat Arman. Shaikh Zayed University, faculty of Social Sciences, Department of History and Geography.
**Email Add:** zinatarman2023@gmail.com

**Abstract**

Tourism is emerging as a new industry globally, gaining influence from all sides in most industrialized countries of the world and reaping significant benefits from it. Afghanistan as a whole, and Khost province in particular, has many geographical, recreational, pilgrimage, and natural areas in most districts and the center that are worthy of tourist attention. Khost province has a favorable climate and significant recreational areas, making it a province worthy of tourists' attention. In this regard, the best conditions can be created for the tourism industry. If these areas are provided with paved roads, transportation facilities, hotels, small parks and parking lots, and other convenient services, it is not far off that this industry will grow well in Khost province and, on the other hand, the unemployment rate will decrease. This article, which is compiled about the tourist areas of Khost province, has attempted to systematically introduce a number of famous areas of the province that are important in terms of recreation, tourism, and geographical location. In collecting the materials for this article, library sources and resources were used, and interviews were conducted with scholars and professors in the field, as well as with local residents.

**Key word:** Tourism, tourist areas, historical monuments, historical places, Khost